# اتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ، وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ». «د الله څخه ووېرېږئ چې رب مو دی، پنځه وخته لمونځونه مو وکړئ، د میاشتې روژه مو ونیسئ، د خپلو مالونو زکاتونه مو ورکړئ، او د خپلو واکمنانو پیروي وکړئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ

له أبو أمامة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په حجة الوداع کې د خطبې پر مهال واورېدل چې ویيل یې: «اتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ، وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ». «د الله څخه ووېرېږئ چې رب مو دی، پنځه وخته لمونځونه مو وکړئ، د میاشتې روژه مو ونیسئ، د خپلو مالونو زکاتونه مو ورکړئ، او د خپلو واکمنانو پیروي وکړئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ».

[صحيح]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د عرفات په ورځ په حجة الوداع کې خطبه ورکړه چې د هجرت لسم کال و، او په همدې سره ونومول شو؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې حج کې د خلکو سره خدای په اماني وکړه. او ټولو خلکو ته یې د الله جل جلاله څخه په وېرېدلو او د هغه اوامرو او نواهیو ته په پاملرنې امر وکړ. او پدې چې د الله جل جلاله لخوا پرې په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض شوی لمونځ وکړي. او دا چې د رمضان د میاشتې روژه ونیسي. او پدې چې د خپلو مالونو زکات اړمنو خلکو ته ورکړي او بخل پرې ونه کړي. او د الله جل جلاله له نافرمانۍ پرته د هغو خلکو پیروي وکړي چې الله جل جلاله پرې واکمن کړي دي. نو چا چې دا یاد شوې کارونه وکړل، اجر یې جنت ته داخلېدل دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3520